

# تصویر: اخلاقي کیسې

ژباړن: اسمعیل معصوم

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

تصوير:څواخلاقي کیسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نوملړ

ورکه شوي ګوتمۍ............................................................ 4
یوتلپاتې درس ............................................................ 5
بادشاه او درې وزیران ............................................................ 6
له سختیوشکایت ............................................................ 7
غیبت کول او دمړه خره غوښه ............................................................ 8
دنورو په اړه ژر قضاوت کول............................................................ 9
خیرنه کرکې............................................................ 10
دژوند درس ............................................................ 11
یو قانع زوړسړی............................................................ 12
تخم او راتلوونکی امپراتور ............................................................ 13
ترکاڼ............................................................ 15
دکعبې ننداره............................................................ 16
دزده کړې تنده ............................................................ 17
یوصالح سوالګر ............................................................ 18

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یو ښوخبرې

هر سهار چې تر خپل کاري دفتره راشم دورځې ترپایه په لسګونو کیسې لولم او ژباړم یې. بعضې وخت داسې وشي چې یوه کیسه وژباړم په کمپیوټرکې یې ثبت او بیایې رانه موقعیت او نوم هېرشوي وي چې څه مې ژباړلي، چېرته مې ثبت کړي اوپه څه نوم مې ثبت کړي دي. څه وخت وړاندې مې وغوښتل چې ځینې اسلامي کیسې چې اخلاقي اړخ ولري پښتوژبې ته راوژباړم دکیسوپه لټون مې پیل وکړ یو سایت مې پیداکړ چې لاندې ټولې کیسې مې ترې راوژباړلې باید له یاده ونه باسم چې په دغه سایټ کې په سلګونواسلامي کیسې وې چې ما ترې لاندې ښوکیسې وټاکلې. زما تصمیم داسې دی چې غواړم دمختلفو اخلاقي کیسو یوه ټولګه په راتلوونکو اوونیو کې تیاره کړم داچې پیل مې له اسلامي کیسووکړ نوما فکر وکړ چې داسلامي کیسو شمېراوس بس دی تر هغه چې زما دکیسو ټولګه تیارېږي زه غواړم چې دغه کیسې درسره شریکې کړم که څه هم وروسته به په کتابې بڼه دنورو سلګونوکیسو په قطارکې چاپ ته برابرې شې. یوه یادونه چې هغه زما په اند اړینه ده داده چې دغه کیسې کیدای شي مخکې هم نورو ژباړنو اولیکوالانوراژباړلې وي مګر ما له انګلیسي راژباړلي چې انشاء الله هدف او مقصد به یې ورته وي. یوه غوښتنه مې له تا/تاسو درانو لوستوونکو ښخه داده چې دغه کیسې مایوازې راژباړلې او لږ وزیات املايي تیروتنې مې یې اصلاح کړې دي که هرچېرته موکومه ستونزه ترسترګوشوه هیله ده لومړی بڼنه راته وکړئ او بیایې داصلاح اوسمون لپاره راسره شریکې کړئ ترڅوپه راتلوونکي چاپې کیسوکې تکرارنه شي. هیله ده له خپلې ناچیزه زده کړې اوتجربې ددین ،وطن اوخپلې ژبې لپاره پوره استفاده وکړای شم.

اسمعیل معصوم

بې سرحده ډاکتران-خوست افغانستان

۱۴۰۰/تلې/۲۸ ه ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ورکه شوي ګوتمۍ

**یو ځوان هلک په یوه تیاره کوټه کې خپله ګوتمۍ ورکه کړه. داچې نوموړې ګوتمۍ دهلک لپاره ځانګړی ارزښت اویادونه له ځان سره لرل نوهلک یې په پیداکولومصروف شو. هلک دخپلې ګوتمۍ دپیداکولولپاره دباندې په کوڅه کې چې روښانه څراغونه روښانه شوي وو دګوتمۍ په پیداکولو لګیاشو. دګاونډحلک اوهلکان ورسره دګوتمۍ په پیداکولوسرشول ځانونه یې ستړي کړل مګر ګوتمۍ یې پیدانه کړ. یوپاخه عمرلرونکي سړي له هلک وپوښتل چې ګوتمۍ یې چیرته ورکه کړې ده. هلک وویل چې ګوتمۍ یې دلته نه بلکې په هغه مخامخ تیاره کوټه کې ورکه کړې ده. سړي په حیرانۍ له هلک بیاوپوښتل چې دلته ورپسې ولې ګرځې. هلک دځان هوښیارښودلولپاره څه داسې ځواب ورکړ:داچې تاسې ټول پوهیږئ چې په هغه کوټه کې چې ماخپله قیمت بیه ګوتمۍ ورکه کړې ده تیاره ده نوزه مجبور شوم چې دهغې کوټې په پرځای خپله ګوتمۍ په روښانه کوڅه کې پیداکړم. دهلک په یوداسې بې بنیاده ځواب ټول پوه شول چې هلک یوساده انسان دی هغه ته یې وویل چې لاړشي ترڅوخپله ګوتمۍ په تیاره کوټه کې ولټوي.**

**هغه پیغام چې له دغې کیسې څخه یې زده کولی شودادی چې زموږ قیمت بیه شیبې باید په دغه لنډمهاله نړۍ کې عبث ضایع نه شي. هغه وخت چې تاسې یې داخري ژوند په خوشحالۍ مصرفوئ ترټولوقیمت بیه وخت دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يوتلپاتې درس

يو ځوان زوی خپل زوړ پلار له خپل ځان سره يو رستورانت ته دخوراک لپاره بوت. داچې پلار يې ډيرزوړاوکمزوری وو نودخوراک پرمهال يې له خولې څخه ځينې خوراکي مواد پرکاليو وغورځيدل. په ريســتورانت کې ټولو حلکو ســپين ږيري زاړه سړي ته په بدنظرکتل يوازينی څوک چې آرام ناست وو هغه دسپين ږيری زوی و. زاړه سړي ډوډۍ وخواړه هلک يې لاســونه اوکالي پاک کړل، خزانه دار ته يې پيسې. ورکړې بيا له ريسټورانت څخه روان شول، ټولو حلکو په زاړه سړي اودده په زوی کې ســترګې نيولي وې. يوپاخه عمر لرونکي سړي په هلک پسې له شاناستوکسانو ورغږ کړ: ځوانه! څه شی دپريښودل؟

ځوان ځان اوپلار ته وکتل هيڅ يې نه وپريښي دنه ځواب يې ورکړ.

پاخه عمر لرونکي سړي وويل: تا ترشاډير څه پريښودل؛ تا هرزوی ته يو درس او هر پلار ته يوه هيله پريښوده.

هغه مشران چې هغوی خپله ټوله انرژي، خوښي، خپلې ټولې پيسې۔ او دخپل وخت ټولې پيرزوينې ترموږ قربان اوموږ يې دځوانۍ ترددرشـــل راورســـولودوی دډيردرناوي، عزت او وقار وړ دي. خدای دنه کړي که نن ددوی ســم عزت او حدمت ونه کړل شي يوه ورځ به موږ هم ددوی په شـــان ضـــعيف او محتاج وومګر هيڅوک بـه موددحـدمـت لـپاره حـاضرنـه شي. پښـــتـانـه وايي چې دنوروعزت کوه ترڅوعزتمندشې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## بادشاه او درې وزیران

بادشاه خپل درې وزیران را وغوښتل، هر یو ته یې یوه کڅوړه ورکړه ترڅو دترټولو ښومیووې ډکه کړي. لومړی وزیر دخپل بادشاه خبرې ته ډېرمتوجې اوریښتونی وو. هغه هیڅ ناوخت نه کړ، خولې یې توی کړې، ځان یې ستړی کړ ، مزلونه یې وکړل خپله کڅوړه یې ترټولودغوره میووڅخه راډکه کړه. دویم وزیر دلومړي په نسبت کمه خواري وکړه، کڅوړه یې څه برخه له میوو اوڅه دونو له پوټکوډکه کړه خو دریم وزیر دلومړي اودویم پرخلاف کاملاً بل څه وکړل؛ هغه خپله کڅوړه ټوله له پاڼو اوپوټکو راډکه کړه. درې واړه وزیران له خپلوکڅوړو سره یوځای بادشاه ته حاضرشول. باد شاه یې له دې چې ددوی کڅوړې وګوري دوی یې هریو ددرې درې میاشتولپاره بیلې بیلې کوټې ته ور واچول ورته وې ویل چې ددرې میاشتولپاره ستاسوخوراک ستاسوپه کڅوړوکې میوه ده. لومړی وزیر خوښ وو چې ترټولو ډېرې اوښې میوې یې راوړې دي ، دویم په تشویش کې ووځکه چې خپله نیمه کڅوړه یې له خځلو اوپوټکوراډکه کړې وه مګر دریم په یوبدترین حالت کې ووځکه هغه دخوراک لپاره هیڅ هم نه لرل.

دپورته کیسی هدف دادی چې الله ج موږ ټول دنیا ته دجنت دحاصلولو او ددوزخ څخه دحلاصون لپاره رالیږلي یو. که موږ دلومړي وزیر لاره خپله کړو نوپه لږتکلیف اوخواری سره به مو داخرت لپاره ترټولو ستره ذخیره راغونډه کړې وي خدای د نه کړي که ددویم اودریم وزیر لاره مو خپله کړه نو په بد اوبدترین حالت کې به وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## له سختیوشکایت

**یوې نجلۍ له خپلو تکراري ستونزو خپل پلار ته ډېر شکایت وکړ. نجلۍ به یوه ستونزه حل کړې نه وه بله به ورته رامخکې وه. داچې پلارېې یو تجربه کار اشپاز وو نودنجلۍ دښه پوهاوي لپاره یې هغه له ځان سره اشپازخانې ته بوتله. پلار یې په یو لوښي کې کچالو، په بل لوښي کې هګۍ او په درېیم لوښي کې قهوه واچوله اوبیاېې په هریولوښي پسې اور بل کړ. نجلۍ دخپل پلار تجربې ته حیرانه ولاړه وه. تقریباً له پنځلس شل دقیقو وروسته یې پلار اوروڼه بندکړل، له لومړي لوښي یې کچالو، له دویم لوښي یې هګۍ او له په درېیم لوښي کې یې قهوه دخپلې لورمخې ته کیښوې.دنجلۍ حیرانتیا په دې سره دوه چنده شو له پلاره یې وپوښتل. پلار یې ورته ویل چې کچالو لومړۍ کلک و داوبو په ایشیدو سره هغه پوست، نرم او دخوراک وړ شو. هګۍ په لومړیوکې دومره نازکه وه چې که له یوشي سره لږ هم ټکر شوي وای نوماته به وای مګر داوبوپه ایشیدو سره هغه دومره کلکه شوه چې اوس یې  ماتول دومره اسان نه دي. دقهوې په ایشیدو سره قهوې داوبو رنګ بدل او دڅښلولپاره یې تیارې کړې. نجلۍ لاهم دموضوع په هدف پوه نه شو. پلار یې په موسکاسره وویل: ګوره لورې درې واړه؛ کچالو، هګۍ او قهوه له ایشیدو وړاندې بل دول وو مګر له ایشیدو وروسته هریو ځینې تغیرات ومنل یعنې دوی هر یوه دیوې ستونزې پروړاندې یو ځانګړی عکس العمل له ځانه وښود.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غیبت کول او دمړه خره غوښه

**درسول الله صلی غلیه واله وسلم څخه وړاندې دوه کسان روان او دی ترې وروسته وو، دغو دوو کسانو دیودریم کس په اړه غیبت کاوه ، رسول الله صلی الله غلیه واله وسلم په دوی پسې آرام روان وو تردې چې په یوه لاره کې چې یو مړ خرپروت وو ور ورسیدل، رسول الله صلی الله غلیه واله وسلم دوی ته وویل چې ورشئ دهغه مړه خره غوښه وخورئ. دوی وویل چې دمړه خره غوښه څوک خوري؟ رسول الله صلی الله غلیه واله وسلم وفرمایل: تاسې چې کوم غیبت کاوه هغه د هغه مړه خره له غوښې هم بدتر دی. دغه حدیث ابو داود رانقل کړی دی. دغیبت ویل داسې دي لکه دسګرټ څکول دسګرټ څکول په ژبه کیدای شي دیوې لحظې لپاره خوند اوذایقه ولري خوپه حقیقت کې سګرټ څکول انسان په کراره وژني. غیبت ویل دانسان نیکۍ اونیک عملونه وژني.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دنورو په اړه ژر قضاوت کول

**يو ځلرويشت کالن ماشوم دريل له کړکۍ څخه دباندې کتل چې يوناڅاپه يې نارې کړې: پلاره! وګوره ونې هم زموږ ترشاراپسې منډې وهي.**

**دپلارپرشونډوې نرۍ موسکاخوراشوه شاوخوا ناستوکسانو دهلک ددغه کړنې په اړه افسوس وکړ. موټر يوڅه نورمزل هم وکړ هلک بياناري کړې: پلاره، وګوره! وريځې هم راپسې منډې وهي.**

**دناستوکسانو هم خوصله ورته ختم شوه سپين ږيري ته يې وويل: ولې دخپل زوی ډاکټرته نه بيايې؟**

**سپين ږيري نرۍ موسکا وکړه بيايې وويل: موږ اوس له روغتون څخه کورته په لاره يو،زوی مې دپيدايښت دلومړۍ ورځې راهيسې ړوند دی دخدای ج شکر دی چې نن يې سترګې خلاصې دي.**

**دهيچاپه اړه ژرقضاوت مه کوئ.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خیرنه کړکۍ

**یوه پیغله میرمن له خپل ځوان خاوند سره یوه آپارتمان ته وخوځیده. په لومړي سهاردچای پرمهال یې له کړکۍ دباندې دګاونډي ښځې مینځل شوي ځوړندکالي ولیدل چې ډیرخیرن معلومیدل. خاوندته یې دنوموړې ښځې په اړه وویل چې یاپې مینځل نه دي زده اویایې صابون څه دکارصابون نه دی. هره ورځ داموضوع تېریده اوخاوندبه یې یوازې په دې سره خاموشي اختیاروله. تقریباً یوه میاشت بعد په لومړي ځل میرمنې خپل خاوند ته ویل چې نن یې کالي سم مینځلي دي خاوندېې وویل: نن ورځ زه سهاروختي له لمانځه وروسته لاړم خپله کړکۍ موپاکه کړه. دنوموړې ښځې کالي پخواهم ښه وو خوازینۍ ستونزه زموږ په خیرنوکړکیوکې وه. دنوموړې کیسې هدف دادی چې کله چې زموږ کړکۍ خیرنې وي موږ ته به ټوله دنیا خیرنه معلومیږي. کله چې موږ خوشبینه یو ټوله نړۍ به راته ښکلي او رنګه معلومیږي. پیغمبرص فرمایي: مسلمان دمسلمان لپاره دهنداري حیثیت لري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

دژوند درس

ويل کيږي چې يوسړي څلور زامن درلودل. نوموړي سړي غوښتل چې خپلواولادونوته يو درس ورکړي ترڅودشيانو اوخلکو په اړه ژر قضاوت ونه کړي. دنوموړي هدف لپاره هغه خپل څلور زامن په يولړې سفربانديې وليږل ترڅودامبروت يوه ونه وګوري چې په څه حال ده؟ هغه خپل مشر زوی د ژمي په موسم کې په دغه سفروليږه، دويم زوی يې په سپرلي ، دريم زوی يې په دوبې او څلورم زوی يې په مني کې په دغه سفربانديې وليږل. کله چې دوی راوګرځيدل نو له ټولوڅخه يې دونې په اړه پوښتنې وکړې. مشرزوی يې چې نوموړي ونه يې دژمي په موسم کې ليدلې وه وويل : دامبروت ونه ډيربدرنګه، شخه اوبې ارزښته معلوميده. دويم زوی چې دامبروت ونه يې د سپرلي په موسم کې ليدلې وه له لومړی سره يې مخالفت وښود وېې ويل: نه دامبروت ونې شنې پاڼې وې او له هيلو ډک راتلوونکي يې انتظار کوه. دريم زوی يې چې په دوبې موسم کې نوموړې ونه ليدلې وه له دوی سره يې مخالفت وښود، هغه ويل: دامبروت ونه ډيره ښايسته وه دګلانوعطرېي سيمه خوشبويي کړې وه. څلورم زوی چې ترټولو کم عمره او ونه يې دمني په موسم کې ليدلې وه دنورو ټولو ورونوخبرې يې رد کړې هغه وويل: تاسوچې څه وويل ما هغه څه ونه ليدل ما وليدل چې دامبروت ميوه پخه او دونې پاڼي شنې وې. ددوی له خبرو وروسته يې پلار دوی ته مخامخ شو هغه وويل : زامنوستاسو دهريوه خبره پرخپل ځای سمه ده؛ داچې ستاسې تشريحات له يو بل سره ورته نه دي ددې داليل دانه دی چې تاسې ونه ليدلې نه ده اوياتاسې دروغ وايي خبره اصلاً داده چې تاسې نوموړې ونه په بيلابيلو موسمونوکې ليدلې ده. بيايې زياته کړه چې موږ نشو کولای چې يو انسان،يوه ونه اويابل څه يوازې په يوموسم کې په سمه توګه درک کړو. يو انسان کيدای شي په يوموسم کې خوښ، مالداره او ځوان وي مګر په بل موسم کې کيدای شي ډيرغريب،بې چاره او ضعيف وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یو قانع زوړسړی

یو کلیوالي سړی یوه ورځ دیوې لارې تیریده چې یوه زوړ سپین ږیری سړی چې په سترګو ړوند و اوداسې معلومیده چې له ډیرو ناورغیویې دبدن اکثره غړي فلج شوي وو ولیده. کلیوالي سړي له ځان سره فکر وکړ چې په یوداسې حالت کې له ژونده مرګ ښوځلې بهتر دی. خودهغه حیرانتیا هغه وخت لاپسې زیاته شوه چې هغه له سپین ږیری ړانده واوریدل چې دالله ج ثناه اوستاینه یې داسې کوله: ټوله ثناء اوستاینه دهغه الله لره ده چې زه یې له ډیرو هغو بدوناروغیوچې ځینې نورانسان پرې اخته دي ستاتلی یم. بیشکه چې الله ج زه له ډیرو داسې بدو ناروغیو څخه ساتلی یم چې خپل ځینې نورانسان یې پرې اخته کړې دي. کلیوالی سړی ورنږدې شو اوسپین ږیري ړانده سړي ته یې وویل: اې زما وروره ! ته الله ج له کومې ناروغۍ څخه ساتلی یې چې ثنایې وایې زه خوچې تاوینم داسې فکرکوم چې هیڅ داسې ناروغي نشته چې پرتاراغلی نه ده.

سپین ږیری له خپل ګریوانه سرراپورته کړ بیایې وویل: لرې لاړشه! ایا زه ژبه نه لرم چې دالله ج یووالی بیانوي او زه یې هره شیبه پاک نوم په ژبه اخلم؟ ایا زه زړه نه لرم چې په هغه سره زه الله ج پیژنم؟

داهغه کلمې وې چې کلیوال یې وهڅوه ترڅو له الله ج څخه دګناهونوبښنه وغواړي. داپه یاد لرئ چې په هرځای اوهروخت کې داسې خلک شته چې هغه به په هرلحاظ له تاسوپه ډیرو ستونزوکې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تخم او راتلوونکی امپراتور

**په لرې ختیځ کې یو امپراتور غوښتل چې خپل راتلوونکی ځایناستی وټاکي. په پخواوختونوکې به یو امپراتور یاپادشاه له خپلې کورنۍ څخه یو ځایناستی ټاکه مګر دغه امپراتور دنورو په نسبت یوبل ډول تصمیم ونیو. هغه دملک ځوانان راټول کړل هغوی ته یې دخپل راتلوونکی ځایناستي په اړه وویل چې دی غواړي خپل راتلوونکی ځایناستی ددوی له جملې څخه یوکس وټاکي. که څه هم ددغې خبرې په اوریدو سره د ملک راغونډشوي ځوانان حیران وو مګر امپراتور خپلې خبرې زیاتې کړې: زه به تاسو هریو ته یوځانګړی تخم درکړم . تاسو دغه تخم له ځان سره کورته یو سئ، اوبه ورکړئ ، پالنه یې وکړئ یوکال بعد یې همدغه ځای ته راوړئ زه به یې وګورم اوبیابه خپل راتلوونکی ځایناستی وټاکم. ددغو کسانو له جملې یو هم لینګ وو. لینګ هم دنورو هلکانو په څیر دتخم یوه دانه ترلاسه کړه. کورته یې راوړه او خپلې مور ته یې ټوله کیسه په ډیره تلوسه سره وکړه. مور یې ورته لوښی او دکرنې لپاره مناسبه خواره برابره کړه لینګ خپل تخم ترخاورو لاندې کړهره ورځ به یې اوبه ورکولې. ورځې اوونۍ میاشتې تیرې شوې مګر د لینګ تخم په لوښي کې زرغون نه شو. لینګ او مور یې ورحطاوچې هسې نه امپراتور یې قصاص کړي چې ولې یې تخم نه دی زرغون شوی. کال تیرشو ټولو ځوانانو خپل نباتات دامپراتور لوېې ودانۍ ته وروړل لینګ یوازي له خاورو ډک تش لوښي سره دامپراتور مخکې ځان حاضرکړ. نورو ځوانانو به چې دلینګ تش له خاورو ډک لوښي ولیدو نوپرلینګ به یې ملنډې وهلې لینګ ځان دنورو هلکانو شاته ورسوه. امپراتور دټولو نباتات په غور سره وکتل بیایې لینګ ته ور وکتل چې تش لوښي د نورو ترشاه غلی ولاړ دی. بادشاه وویل چې تاسوخو ماشاء الله ډیررنګه رنګ نباتات راوړي دی ، زه به نن ستاسو له جملې څخه یوکس خپل راتلوونکی ځایناستی دامپراتور په توګه ټاکم. له لینګ پرته هرچافکر کاوه چې نوموړی به دملک راتلوونکی امپراتور وي خو څه ډول چې امپراتور په لومړۍ کې نااشناکار کړی وو نوداځل یې هم دنورو له منځه لینګ دخپل راتلوونکی ځایناستي په توګه اعلان کړ. دځوانانو ترمنځ دلینګ په اړه خبرې اوګونګسې پیل کړې چې ولې یې ددوی له منځه لینګ چې تخم یې هیڅ زرغون شوی هم نه دی وټاکه؟ امپراتور لینګ ور وغوښت. بیایې ترې دنوم پوښتنه وکړه، لینګ ورته خپل نوم وښود. امپراتور راغونډشویو ځوانانو ته وویل: یوکال وړاندې په همدغه ورځ په دغه ځای کې ماټولو ته یوه یوه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

دتخم دانه درکړه ترڅوتاسوېې په خاورو کې وکرئ ، پالنه اوپاملرنه يې وکړئ، ماتاسو ټولو ته خراب تخمونه درکړل چې هيڅ نه زرغونيدل . دراتلوونکی امپراتورۍ لپاره له لينګ پرته تاسو ټولو دنومورړي تخم دانې پرځای نوي تخمونه کرلي اونن موراوړي دي يوازينی کس چې هغه دامپراتورۍ لپاره خپله ريښتونوالی او صداقت حيانت نه کړل هغه لينګ وو. زه دخپل ځايناستي په توګه يوريښتونی او صادق انسان لينګ ټاکم. دپيغمبر اکرام صلی الله غليه واله وسلم ديوحديث چې بخاری رانقل کړی دی هدف دی چې ريښتيا ويل انسان نيکۍ ته هڅوي اونيکي انسان جنت ته رسوي اودروغ ويل انسان بدۍ اوبدۍ کول انسان جهنم ته رسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ترکاڼ

**یو پاخه عمر تجربه کاره ترکاڼ چې دعمر ډیره برخه یې په ترکاڼۍ کې تیره کړې وه تصمیم ونیو چې د خپلې استعفاپه اړه خپل مشر ته خبر ورکړي. هغه غوښتل چې دژوند پاتې ورځې له خپلې کورنۍ سره په عیاشۍ اوآرامۍ سره تېرې کړي. که څه هم هغه په خپل مزد اومعاش پسې خفه وو مګر هغه مجبور وو چې دعمر دډیروالي په اساس تقعدشي. مشر یې دخپل ریښتوني اوتجربه کار ترکاڼ په دغه خبره زړه ماتی او خفه شو. له ترکاڼ یې وغوښتل چې فقط یوه ښیګڼه ورسره وکړي. هغه ترکاڼ ته وویل چې زه غواړم چې ته ماته یووروستی کور یونموني کور جوړکړې.**

**داچې دترکاڼ دکار وروستی نمونه وه باید ترکاڼ په ډیرمهارت اوډیرې تجربې اوپوره ریښتونوالي سره دغه کور جوړکړای وای مګر هغه دوکه کیږي؛ هغه خپل کار ته اوس دپخوا په څیر توجه نه کوي دکورپه جوړولو کې له بې کیفیته موادو استفاده کوي بلاخره یې دکورجوړونې کار بشپړیږي اوخپل مشر کور ته راغواړي. مشریې کور ته په مایوسۍ ګوري بیایې یو څولوی کاغذونه راخلي اوپرکور یې ځوړندوي، پرکاغذونوباندې لیکل شوي دي: دغه زما له لوري ستالپاره یوه تحفه شوه او دکورکنجي ترکاڼ ته ورکوي. ترکاڼ په دې سره په خپل شرمناک کار باندې افسوس کوي هغه پښیمانه کیږي چې ولې یې یوداسې بدرنګ اوبې کیفیته کور جوړکړ. هغه ارمان کوي کاش هغه په دې پوهیدای چې دا کور دده خپل کور دی هغه به له سمو موادو جوړکړی وای.**

**موږ هم کټ مټ لکه دغه ترکاڼ ؛ خدای ج موږ دنیا ته رالیږلي یو ترڅوپه جنت کې دخپل ځان لپاره کورونه اوودانۍ جوړې کړو. داچې زموږ ودانۍ به څه ډول وي داپه موږ پورې اړه لري چې څه ډول ترکاڼي کو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دکعبې ننداره

دکعبې شریفې له ننداري هیڅوک نه ستړی کیږي هغه کور چې پر هغه باندې دالله ج رحمتونه اوبرکتونه دباران په څیر راوریږي. دټولې ځمکې پرمخ هیڅ داسې ځای نشته چې هغه له کعبې سره دمقایسې وړ وي. کعبه هغه کور دی چې هر مسلمان هېله لري ترڅو ورشي تر ډېره ورته وګوري او له رحمتونو اوبرکتونه یې برخمن شي. یو وخت چې دواشنګټن ډی سي ته په سفر وم خلکو راته وویل چې دلته یوه میرمن نوي مسلمانه شوې او له ماڅخه ډیرې پوښتنې لري. هغوی داهم وویل چې دنوموړې میرمنې له مسلمانیدو وروسته نورې ډیرې میرمنې چې تراوسه یې اسلام نه دی قبول کړی داسلام قبلونې هڅې کوي. دلمانځه لپاره به دغې نوې مسلمانې شوې میرمنې ترټولوښکلې اوبهترین کلې واغوستل مګر دلمانځه پرمهال به له هرڅه څخه بې غوره اویوازې به دالله ج دملاقات په خوندکې ډوبه وه.

له نوموړې میرمنې سره له پوښتنواوځوابونو وروسته له هغې وپوښتل چې څه شي هغه اسلام قبلولو ته وهڅوله هغې ژوره ساه واخیسته اوبیایې وویل: زه یهوده اوزما خاوند عیسوی وو، زما خاوند په سعودي عربستان کې په کومه تخنیکي دنده باندې وګمارل شوه اومونږ هلته لاړو. مابه هره ورځ مسلمان سړي اوښځې لیدل چې سپین ښکلې کالي به یې پرتن اویوچیرې به روان وو. ما له خپل خاوند وپوښتل چې دغه خلک چیرې ځي؟ هغه وویل دوی کعبې ته دعبادت اوحج لپاره ځي. ما ورته وویل چې زه اوته به هم هلته لاړو شو هغه وویل چې مونږ نشوکولای هلته لاړشو ځکه چې مونږ مسلمانان نه یو. بیامونږ دواړو خپل سپین کالي پرتن اوخوشبختانه ترمکې ورسیدو. مونږ دواړو په کعبه کې سترګې نیولې وې پرکعبه مودرحمتونو اوبرکتونونزول لیدل کله موچې دیوبل مخ ته وکتل نوترسترګو مواوښکې لاندې ترګریوانه رارسیدلې وې. مونږ پوه شوچې داخلک په حقه اوکعبه دنړۍ پرمخ ترټولو ښکلی اودپرتمین ځای دی.

دشیخ زلفقار( Shaikh Zulfiqar) څخه رانقل شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دزده کړې تنده

**حضرت ابن عباس رضی الله تعاله عنه وايي:**

کله چې رسول الله صلی الله غليه واله وسلم زموږ ترمنځ نه وو يعنې پيمغبر اکرام صلی الله غليه واله وسلم رحلت وکړ نومايوانصاري ملګري ته وويل چې اوس خو پيغمبر اکرام صلی الله غليه واله وسلم زموږ ترمنځ نشته راځه چې داسلامي علومودزده کړې لپاره په سفر روان شو. هغه راته وويل: نن سباډيرمشهور صحابه کرام شته دي خلک دخپلوستونزو دحل لپاره دوی ته ورځي نوبناء اړتيانشته چې موږ هم نورخپلوزده کړوته دوام ورکړو يعنې هدف يې دا و چې که موږ ډيرعلوم هم زده کړونو خلک به دکومې مسلې لپاره ترموږ رانشي. عبدالله ابن عباس رضی الله تعاله غنه فرمايي چې دده په دغه خبرې سره زه هيڅ مايوسه نه شوم، مادزده کړې په پار خپل سفر پيل کړ هغه چاچې ما فکرکاوه چې يوخبره يې هم له پيغمبر اکرام صلی الله غليه واله وسلم څخه اوريدلې ده هغه ته ورغلم. که به يو څوک ويده وو نوما به دهغه دکور په خواکې خپل شال خور کړ او ترهغه به ورته منتظروم چې هغه به له خوبه راويښ شو بيابه مې ترې زده کړه کوله. ځينو به راته ويل چې عبدالله ته چې دحضرت محمد صلی الله غليه واله وسلم تره زوی يې نوبايد تا دومره تکليف نه وای کړای چې ترموږ راغلې موږ به درغلي وای. مابه ورته ويل چې زه ستاسوزده کوونکی او تاسې زما استاذان ياست. ځينو به راته ويل چې عبدالله له کومه وخته منتظروې؟ مابه چې ورته وويل چې مادرته ډير انتظاروکړ هغوی به ډير خفه شول هغوی به راته وويل چې بايد مادوی ويښ کړی وای. ما تر هغه پورې چې خپلو هڅواوسفرونوته دوام ورکړ چې داسې وخت راغی چې ډلې ډلې خلک به ماته ديوې پوښتنې دځواب يادمسلې دزده کړې لپاره راتلل. يوه ورځ هغه انصاري ملګري چې ماورته دزده کړې لپاره دسفرلپاره ويلي وو راته وويل: واقعاچې ته زموږ په نسبت ډير حساس اودزده کړې ډيرترې يې.

منبع: دصحابوو کيسې د شيخ محمدذکرياکندلاوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## يوصالح سوالګر

تاسو چې لاندې کومه کيسه لولئ دغه يوه ريښتوني کيسه ده چې دبنګلاديش په مرکز داکا کې واقع شوې ده.

ويل کيږي چې دبنګلاديش په مرکز دداکا ښار کې به دجمعې دلمانځه پرمهال يوسوالګر چې له خپل سخت غربت څخه زوريده سوال کاوه نوموړی به دسوال ترڅنګ د جمعې حطبې ته هم غوږ و. يوه ورځ يې دجمعې دلمانځه په تقريرکې دحلال رزق داهميت په اړه واوريدل چې څوک چې خرامې پيسې ګټي دهغه دوعاالله ج نه قبلوي نو ده له ځان سره ووېل چې نور به يوازې له هغو خلکوپيسې اخلي چې دی يې پيژني اواطمنان لري چې پيسې يې حلالې ګټلي دي. که څه هم په دې سره دده په رزق کې ترېوحده کمی راغی مګر هغه پرخپله وعده دژوند تراخري سلګۍ پورې متعهد پاتې شو. دی د خلکو ترمنځ په يو امين اوصالح کس باندې پيژندل کيده کله چې مړ شو په جنازه کې يې دښار ډيرو خلکو ګډون وکړ.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**